دعمري د اداء کولو مناسک او طريقه

بشتو پشتو

1 إحرام کول

احرام وايي: په مناسکو د حج او يا دعمري کې دداخليدو او شروع کولوا نيت ته.

هغه کسان چه الوتکه کي راځي حج ته يا عمري ته هغوي به په اسمان کي دميقات دتيريدو له وخت څخه لږ مخکې نيت کوي.

- ده سوريي او د مصر د خلکو ميقات (جُحفه) ده، او دا د مکې څخه (186) کيلومتره لري دي.
- د مدينی منوري د خلکو ميقات (ذو الحليفة) ده، اوس ورته (ابيار علي) وايي، او دا د مکې څخه (420) کيلومتره لري دي.
- د عراق دخلکو ميقات (ذات عرق) دي، او دا د مکې څخه (98) کيلومتره لري دي.
- د نجد دخکلو ميقات (قرن المنازل) دي، او دا د مکې څخه (99) کيلومتره لري دي.
- د يمن د خلکو ميقات (يلملم) دي، او دا د مکې څخه (99) کيلومتره لري دي.

2 طواف کول.

طواف أووه چکره دي ـ په کعبي باندي ـ چه هر يو چکر د حجر اسود نه شروع کيږي او په حجر اسود باندي ختميږي.

شروع کيدل دطواف.

ختميدل دطواف

3 د مقام ابراهيم نه شاته دوه رکعته مونځ کول (که ممکنه وه)

4 د صفا او مروه تر منيځه عادي مزل - سعي - کول،

صفا

مروه

اووه چکره

د دوه شنو نښو –د راډوونو- څخه مخکي او روسته.او په منيځ کي د دوه شنو نښو تيزه منډه وهل.خو دا منډه خاص دسړو لپاره ده دښځو لپاره منډه وهل نشته.

5 د سر ويخته خريل، او يا ورکوټي کول.

د سر ويخته خريل، او يا ورکوټي کول دا يوازي دسړو لپاره دي. او د ښځو لپاره صرف ورکوټي کول دي، او ښځه به ويخته کټ کوي د خپلي کونځي نه په مقدار او اندازه دګوتې يو بند.

هغه کارونه چه دمحرم لپاره داحرام په وخت کې منع دي.

1 د سر او بدن څخه د ويښتو لرې کول. 2 نوکونه پري کول.

3 خوشبويي لګول او استعمالول. 4 د ځان لپاره يا د بل چا لپاره د واده تړون نيول

5 ښځي ته د شهوت په نيت نيژکيدل

6 ښکار کول.

هغه کارونه چه يوازي دسړو لپاره منع او حرام دي د احرام په وخت کي.

1 جامې اغوستل، يا ګنډلی شوي لباس کول أو هغه ديته وايي: چه د انسان د بدن د کوم اندام فه برابره أندازه ګنډلی شوي وي، لکه قمييص يا دپرتوک او داسي نور.

2 د سر پټول لکه په پګړی او يا خولی او يا په بل شي باندي، چه پيوست وي سر فوري.

هغه کارونه چه يوازي د ښځو لپاره منع دي د احرام په حالت کي.

1 مخ پټول په نقاب او يا چادري باندي، خو که چيري پردي خلق يې خواته موجود وو نو بيا به ښځه خيل مخ پټوي په خپل پوړني او حجاب باندي.

2 دستاني (دشکشي) اغوستل

هغه کارونه چه په عمره کې دهغې کول مستحب دي.

1 د احرام د نيت کولو نه مخکي، د نوکانو پري کول، او هغه ويښته لري کول کم چه دهغي لري کولو ته ضرورت او اړتيا ده.

2 د احرام لپاره غسل کول. 3 د احرام د نيت کولو نه مخکي خوشبويی لګول په بدن باندي سړو لپاره.

4 سپين څادر او سپين لنګ اغوستل يوازي نارينه وو لپاره.

5 تلبيه ويل: «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ ، لا شَرِيكَ لَكَ» تلبيي معني:.
اي الله زه حاضر يم، ته هيڅ شريک نلري، زه حاضر يم، يقينا ټوله حمدونه او ثناء کاني او نعمتونه ستا لپاره دي،
او بادشاهي هم ستا ده، ته هيڅ شريک نلري. دا تلبيه به وايي: د احرام د تړلو څخه د طواف د شروع کيدو پورې.

6 يو وره ښکاره کول په طواف کي يوازي دنارينه ؤ لپاره.
او طريقه يه داده: چه څادر به دښي وورې دلا ندي او دکسي -چپي- ووري د پاسه واچوي.

7 د حجر اسود ښکلول او مچه ول. 8 اولني دري چکرو کي به (رمل) کوي، يعني: واړه واړه قدمونه به په جلتي سره اخلي

9 د طواف د پوره کولو نه وروسته دمقام ابراهيم نه شاته دوه رکعته مونځ کول.